## د ارزاقو امارتي‌شرکت د ولس د هوساينې سرچينه

د يوه هېواد اقتصادي پرمختګ او د خلکو هوساينه د منظم خوراکي سيستم له لارې تامينيدلی شي. خوراکي توکي نه يوازې د انسانانو د پاتې کېدو لپاره مهم دي، بلکې د يو هېواد د اقتصادي او ټولنيز ثبات بنسټ هم جوړوي.

د ارزاقو امارتي‌شرکت، چې د خوراکي توکو د برابرولو، وېش او مديريت له مهمو ادارو څخه دی، د خلکو د اړتياوو په پوره کولو، د بازار د ثبات او د ملي اقتصاد د ودې لپاره ارزښتناک رول لري.

د ارزاقو امارتي‌شرکت د ستراتيژيکو پلانونو له مخې يو مسووليت يې دا دی، چې له دولتي او نادولتي ارګانونو پرته، عام ولسونو ته هم د اړتيا وړ خوراکي توکي په مناسب بيه او وخت‌سره چمتو او برابر کړي.

د ارزاقو امارتي‌شرکت فعاليتونه نه يوازې د لنډې مودې لپاره وي، بلکې د راتلونکي نسل د هوساينې او بقاء لپاره بنيادي تېږه کېښودل شي.

زموږ په هېواد کې کله نا کله د بازارونو وضعيت ترينګلي شي، بازارونه د احتکار او بې‌ثباتۍ ښکار ګرځي. نو دارزاقو امارتي‌شرکت دا مسووليت لري، چې د سکتوري ادارو په ګډه همکارۍ نرخونه مهار کړي او خپل زيرمه کړي توکي بازار ته په ټيټه بيه وړاندې کړي.

د اقتصادي اهميت په برخه کې د ارزاقو امارتي‌شرکت د سيمه ئيزو کروندګرو او توليدوونکو لپاره يو باوري مارکېټ جوړولی شي، چې محصولات او توليدات يې وده وکړي او پر وارداتو د تکيې کچه راټيټه شي.

دا چاره د ملي اقتصاد لپاره ګټور دی، ځکه چې د کورنيو محصولاتو او توليداتو ملاتړ د اقتصادي ثبات او ځان بسياينې لامل کېږي.

همدارنګه ارزاقو امارتي‌شرکت د اقتصاد ثبات ته وده ورکوي، تر څو ولس له اقتصادي ګواښ‌سره مخ نه شي.

ارزاقو امارتي‌شرکت بېوزلو او اړمنو خلکو ته د کارموندنې فرصتونه رامنځته کول يې يو بل مهم اړخ دی، چې د خوراکي توکو د ذخيره کولو، ترانسپورت او وېش له لارې زرګونو کسانو ته د کار زمينه برابره کړې ده.

که د ارزاقو امارتي‌شرکت چارو کې نور پرمختګونه رامنځته شي، نو ډېر ژر به افغانستان د پرمختلليو هېوادونو په کتار کې ځلانده نوم خپل کړي او د بېکارۍ کچه به را ټيټه او د خلکو اقتصادي حالت به مخ په ښه کېدو شي.
انشاء الله

